مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

عبدالستار ایوبي

۲۰۲۱/۱۲/۱۹

# د بشري ټولني پارازيټونه

## پنځمه برخه

**د پای خبري:** د عبدالستار ایوبي د لیکنو تر عنوان لاندي چي کله مو خپله لمړی لیکنه ترتیبول، داسي مو په یاد دي لکه د پرون ورځ.... غالباً د ټاپي پروژې په اړه به وه. د هغه لیکني لپاره انګیزه د حامد کرزي نړیوال هوایي ډګر د ټرمینل و مخي ته د اشرف غني په فرمایش لګول سوي هغه لوحې وې چي د ټاپي پروژې زیری پکښي ورکول سوی وو. د ملګرو بحث پر راپورته سو چي خلاصه یې هغه لیکنه سول چي د لیکنو د دې لړی په پیل کي د پښتو ژبو ویبپاڼو سره شریکه سول او یوې ویب پاڼي نشر هم کړل. هر ځومره چي د هیواد پر سیاسي مسائلو زموږ ځیړني پراخیدلې، دا خبره راته جوتیدل چي د افغانستان سیاسي ناخوالي یو ځرخکي جریان لري. یعني په هرو ځو مرحلو کي تکراریږي. د همدې تحلیل په اساس مو یو شمیر وړاندویني هم د هیوادوالو سره شریکي کړې چي په هغوئ کي یوه وړاندوینه دا هم وه چي اشرفغني و د ده شراکتداران به هیڅ کله دې ته اماده نه سي چي واک په رسمي ډول چا ته وسپاري ځکه چي ډیر ستر خیانتونه او جعلکارئ یې کړي دي او واک تسلیمونکی به مجبوریږي چي د خپل مسئولیت د لیري کولو لپاره دا خیانتونه رسوا کړي. دا چي پر امیر شاه زمان باندي د کودتاه راهیسي واک یا په میراثي توګه لیږدول سوی دی او یا هم د کودتاه یا انقلاب د لاري، علت یې هم دا خبره ده. نور که موږ پر دې موضوعاتو باندي لیکنو ته ادامه پیدا کړو نو زموږ خبري به هم تکراري وي او تکراري خبري خپل معنویت او مفهوم د لاسه ورکوي. دا چي دا سترونه لیکل کیږي، داسي ښکاري چي دا لیکنه به د دې لړی وروستۍ برخه وي. موږ فکر کوو چي د لیکنو په دې لړی کي مو د افغانستان د مظلوم ولس د ناورینونو ټول اړخونه په ډیر دقیق ډول ځیړلي دي. که چیري دا لیکني د هغه نیټو سره یوځای تالیف سي، په کومو نیټو چي خپلو مخاطبینو ته د ای میل د لاري لیږل سوي دي او د لیکنو مخکیني او وروستي حالات سره پرتله سي هر لوستونکی خپله قضاوت کولای سي چي زموږ ستونزي ځرخکي جریان لري او د ځرخ څخه د وتلو لپاره موږ یو فوق العاده قوي حرکت او په ظاهره دهدف سره تضاد لرونکي هڅي ته اړتیا لرو. کټ مټ د هغه لامبوزن په شان چي کله په ځرخ کي راګیر سي، نو د اوبو تل ته تللو او د اوبو لاني د ځرخ د ساحې څخه د وتلو هڅه کوي. موږ افغانان اړتیا لرو چي د تیرو ځو سوو کلونو سیاسي او مذهبي ساختارونو شکل ته تغیر ورکړو، د سیاسي او مذهبي رهبري لپاره د قابلیتونو، مسئولیتونو او امتیازاتو یو داسي چوکاټ جوړ کړو چي په هغه کي د رهبر او پیروانو متقابل مسئولیتونه او حقوق په متوازن ډول تشریح سوي او هغوئ ته د رهبرانو او پیروانو پایبندي موجوده وي. ځوک چي مسئولیت په پایله لرونکې توګه سر ته نه سي رسولای یا پر سر بیریږي، باید کور ته ولاړ سي او موقف د بل یوه اهل و قابل انسان لپاره پریږدي. که موږ په کښته سویه زړه ور، با استعداده او ژمن سیاسي رهبران رامخته نه کړو او د هغوئ سره د اصولو په چوکاټ کي په کلکه ونه دریږو، په ملي کچه مخلص او لایق رهبران یوازي زموږ ستونزي نه سي را حلولای. که نه هغه دی د حامد کزي په شان لایق او پوه سیاستمدار ۱۵ کاله شا و خوا دا هیواد اداره کړ، لاکن زموږ ملي ستونزي بیا هم پر ځای وې. ملا برادر اخوند اوه و اته کاله د دې لپاره سیاسي مبارزه وکړل چي هیواد د کورنۍ جګړې څخه وباسي، د طالبانو تحریک د استخباراتي اغیزو څخه ازاد کړي او صلحه راولي او نړۍ هم په ظاهره او ځیني نړیوالو رهبرانو لکه ډونلډ ټرمپ تر ډیره حده په رښتیا سره مرسته هم ورسره وکړل خو بیا هم فاسد ډیموکراټیک نظام د جګړې په پایله کي سقوط سو او د تیر نظام د فسادیانو سره اړیکه لرونکو فسادګرو تر واک لاندي یوه مطلق العنانه ډیکتاټوري (چي د نامعلوم ډیکتاټور لخوا رهبري کیږي) رامنځته سول، دا ټوله په داسي حال کي چي په دواړو نظاممونو کي د ټیټي سویې خلګ او ولس پر یوه دایمي صلحیزه تګلاره صلاح سوي وه. خو موږ امریکایانو او د نړۍ نورو ملتونو ته ځکه شرمنده نه یو چي د صلحي په پروسه کي د دوئ د دولتونو اوږدمهاله او پرمصرفه ښکیلتیا له کبله د دې پروسې په ناکامي او د هغه څخه راپیښي شرمندګي کي دوئ زموږ سره شریک دي. په افغانستان کي د ولسواکي د قیام د هڅو ناکامي په حقیقت کي ټولي نړۍ د ولسواکي ناکامي ده. لکه په افغانستان کي چي د کمونیزم شکست په ټوله نړۍ کي د کمونیزم په ماته منتج سو، همداسي به په افغانستان کي د ولسواکي نظام ماته په نړۍ کي د ولسواکي د ماتي پیشخیمه وي او دا ناکامي به په قوي احتمال سره د لیري اسیا هغه ټولنو ته سرائیت کوي چي د چین او امریکا تر منځ فاصل حد تشکیلوي. د دې تر څنګ هند، پاکستان، بنګله دیش او نورو هیوادونو زورور به هم دا پلمه جوړه کړي چي ډیموکراسي نور ناکامه ده او د چین او روس د بلاک د تقویې لپاره به ورته نظامونه په خپلو هیوادونو کي تشکیل کړي. د افغانستان اصلاح پالي، راسخ العقیده



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په خیر و لولئ

مسلمانان او د ولسواکه نظام پلویان د غربي بلاک څخه پيسي نه غواړي، فقط دا ځني غواړي چي په افغانستان کي دي د ولسواکي د دښمنانو د ملاتړه څخه خپل دولتونه او د هغوئ استخبارات راوګرزوي. دوئ به خپله مبارزه ژوندۍ ساتي، که څوک مرسته ورسره کوي او که نه. د ټول افغانستان، نن ټکي اسيا، لر او بر او په پای کي بالخصوص د بينوا وبيپاني څخه مننه کوو چي زموږ ليکني يې په خپلو پاڼو کي خپرې کړې. په دې لاره کي د جناب خالد هادي صاحب ملاتړ ډير زيات د ستاينې وړ دی. که څه هم په د دې ليکنو په ځينو ځايونو کي به د غلطو معلوماتو، انساني احساساتو او سطحي فکر اغيزي محسوس سوي وي، چا ته ژړا، چا ته ښيرا او چا ته ښکنځل ليکل سوي وي خو په مجموع کي د توان تر حده (د يوه انسان، يوه مسلمان، يوه پښتون يا افغان په صفت) بې طرفي مدنظره ساتل سوې وه. دا چي اوس هم د افغانانو سرنوشت د پرديو استخباراتو د جاسوسانو په لاس کي دی. داسي استخبارات چي د يوې واحدي مافياء د ګټو لپاره د خپلو دولتونو په سترګو کي هم خاوري اچوي. زموږ دغومره وس دی چي د دې هيوادونو سياسيونو ته ووايو چي په افغانستان کي ستاسو فقط يو ډول مداخله ستاسو د ملتونو په ګټه ده چي دلته مسئوليت پزيره خلګ د يوه مسئوليت پزيره سياسي نظام پر تاسيس او بقاء ورکولو باندي وتوانوئ. خو دوئ زده کړه نه کوي. که امريکايانو عبرت کولای د پرل هاربر د واقعي څخه به يې کړی وای چي پايله يې د دوئ د ملي ادرسه څخه د جاپان پر دوو ښارونو باندي د اټوم بمونو اورول وه. د دې دواړو غميزو مسئولين هغه خلګ وه چي د جاپان نظامي رهبري ته يې پر پرل هاربر باندي د بريالیو عملياتو لپاره اړين معلومات او تشويقئ ورکړي وې. دا چي پر هغه موضوع چا تحقيق و نه کړ، بيا د ۱۱/۹ پيښه رامنځته سول. کله چي امريکا ډيوالي سوې وه نو يهودو د جرمني پر ضد جګړې لپاره ډيري پيسي ورومنلي. د دې پيسو ډيره برخه هغه پيسي وې چي د ملټي نيشنل شرکتونو د تجارتي مداريتوبونو د لاري د دوئ د اقتصادي جريان څخه غلا سوي وې. امريکايانو يهودو ته عسکر ورکړل. په پايله چي جرمنيانو شکست وخوړ او د شکست خوړلي ملت په محاکمو کي د انصاف و عدالت پر اصولو هغه ملنډي ووهل سوې چي د نورمبرګ د محاکمو په نوم ونومول سوې. د دې سياسي ملنډو په ترڅ کي رسمي دولتي مامورين د خپلو رسمي دندو او اوامرو د اجراء په جرم په مرګ و دايمي حبس محکوم سول. امريکايانو کولای سوای چي د نورمبرګ په محاکمو کي د عدالت پر اصولو باندي د ملنډو وهلو مخه يې نيولې وای. شايد امريکايانو دا فکر کړی وي چي دا د يهودو او جرمنيانو خپل منځي موضوع ده. حال دا چي امريکايان او جرمنيان دواړه د اوروپايي سپين پوستکي نژاد خلګ دي. د جرمني عدلي نظام تر ننه پوري د دې غميزي څخه قد نه دی ساز کړی. د نورمبرګ د محاکمو احمقانه پريکړي په جرمني کي معيار وګرزيدلي او نن ورځ موږ پر جرمنيانو باندي اتکاء کولای سو چي تر ټولو احمقانه قوانين وضع او نافذ کړي. نن جرمني په نړۍ کي يوازينی هيواد دی چي هلته يوڅوک پر خپلي ميرمن هم جنسي تيری کولای سي.....
موږ هم تر يو وخته په دې مفکوره وو چي امريکايانو ته رښتيا هم هيڅ اړتيا نه وه چي د نورمبرګ په محاکمو کي د انصاف او عدالت پر بنسټيزو اصولو باندي روان جنسي تيري مخه نيولې وای. خو زموږ مفکوړې هغه مهال تغير وکړ کله چي د امريکا يو سپين پوستی پوليس افسر ډيرک چاوون د خپلي دندي د صادقانه اجراء په جرم په خود امريکا کي محاکمه او د نورمبرګ د محاکمو په شان فرمايشي انصاف ورسره وسو. تر کومه پوري چي د تور پوستو او سپينپوستو موضوع ده؛ هرامريکايي پوهيدلای سي چي د امريکا د کورنی جګړې راهيسي د تورپوستانو د حقوقو موضوع د يوه داسي سازمان لپاره يوه سياسي وسيله ده چي په امريکا کي د بهرنيو عناصرو د ګټو ساتنه کوي. دا سازمانونه د خپلو اهدافو لپاره هم سپين پوستي او هم تورپوستي استخداموي. خو دا حقيقت پر خپل ځای ثابت دی چي امريکا ته راوړل سوي تور پوستي مريان هغه مهال د لمړنيو حقوقو څښتنان سول چي کله د غير امريکايي تاجرانو د کبنتيو څخه راشيوه سول او د امريکا پر ځمکه يې لمړی ګام کښيښود او دوئ ته د دې حقوقو ورکونکي بل څوک نه وه، هم دغه سپينپوستکي امريکايان وه او دا چي نن ورځ د امريکا تور پوستی د نړۍ د بلي هري برخي تر تورپوستي ډير ښه ژوند لري. په هر صورت زموږ استدلال په دې کي وو چي په امريکا کي د تور او سپين اختلاف تر ډيره حده منفعله پديده ده لکه د افغانستان داخلي جګړه چي اوس ورځ تر بلي د يوې منفعله پديدې په توګه ښکاره کيږي.
په مجموع کي ټوله افغانان د سياست سره کار لري. هر انسان خپل د ځان او کورنی مادي او معنوي اړتياوي د ټولني څخه پوره کوي او ټولنه د سياست د لاري اداره کيږي. سياست زموږ د ټولنيز ژوند حياتي جزء دی لکه د يوې بوټي لپاره چي خاوره، اوبه او هوا د هغه د ژوند چاپيريال يو مهم جزء ده. هر هغه زهرجن عنصر چي اوبه، هوا يا خاوره ککړوي؛ بالاخره دا ضرر طوعاً او کرهاً تر دې بوټي پوري رسيدونکی دی. نړيوالي مافياوي هم زموږ په ټولنيز چاپيريال کي سياست، تجارت، فرهنګي اړيکو او داسي نورو کي تغيراتو راوستلو سره زموږ د ژوندانه چاپيريال د يو شمير بشري ټولنو لپاره مفيد او ځينو نورو لپاره زهرجن ګرزوي. په ټولنه کي چي د هر څومره د يوه وګړي قدرت، ثروت، اثرو رسوخ لږ وي هغومره يې سياست ته اړتيا زياته ده. ځکه چي د يوې ټولني د ټولو سياسي پريکړو منفي اغيزي هغه څوک زيات زيانمن کوي چي تر ټولو بې وزله، غريب، مفلس او کمزوری وي. بناً په سياست کي بايد هغه څوک پانګونه وکړي چي په بل هيڅ شي کي يې پانګونه نه وي کړې او په ميراث کي ډير څه نه وي ورته پاته.
همدا خلګ بايد لاسونه سره ورکړي. د مليونونو په شمير سره يوځای سي او سل سل روپۍ د کاله حق العضويت سره واچوي او ستر، ستر ګوندونه جوړ کړي، د ټولني د مشرانو او چارواکو لپاره مسئوليتونه وضع کړي، د تقرر معيارونه تعين کړي، پر ملي سياسي، اقتصادي او مالي پاليسيو او اصلاحاتو توافق وکړي، د ټولټاکنو غوښتنه وکړي او د خپلي خوښي مشران قدرت ته ورسوي څو دا خرمست وزيران، واليان، ولسوالان او قومندانان کيزه او د ولس پر


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليرلو مخکي په ځير و لولئ

خدمت یې مامور کړي. تر کومه ځایه پوري چي د الهي شریعت موضوع ده. الهي شریعت ۱۴۰۰ کاله وړاندي مکمل سوی دی، د پیغمبر اکرم ص لخوا عملاً بشریت ته ښودل سوی دی او د امام اعظم صاحب رح او د هغه د مخلصه شاګردانو لخوا یې اصول بشپړ تدوین سوی دی. د یوه معقوله او منتقي خبره ده چي اوس باید هغه اسلامي شریعت په تدوین سوي شکل موجود وي چي په قرآن او نبوي ص ویناوو کي علم ورته ویل سوي دي او حصول یې پر هر مسلمان نر او ښځه باندي فرض کړل سوی دی. اصولاً باید په موږ کي مفتي، شیخ، پیر، ستر عالم موجود نه وي چي موږ ته هغه مهال د دین یو اصل یا امر راته وښیي چي کله موږ د یوچا سره په یوه تجارتي یا ټولنیزه معامله کي په دعوه یا جنجال واوړو. دا یوه خطرناکه خبره ده او زموږ د ټولني ۹۹ فیصده ستونزي د همدې مخفي شریعت یا قانون څخه سرچینه اخلي. پټ یا نامعلوم قانون د پټ اور په شان دی. هغه مهال په خبرېږو چي پښه مو راوسوځي. زموږ په ټولنه کي د همدې یهودي مافیانو سیمئزي ایجنسیاني دي (دارالافتاوي، پیران، شیخان، اختنزاده ګان، سیدان، قریشیان، حجت الاسلام، حجت الحجت، ولي عصر، اغا خان و داسي نور او نور) چي دلته یې د دیني او ټولنیزو اصولو تعین او تطبیق یې په خپل لاس کي اخیستي دي او خپلواک انسانان یې خپل مریان ګرزولي دي. که موږ غواړو چي منحیث د یوه ولس پاینټ ولرو، باید دا عناصر او د دوئ فعالیتونه د ځار لاندي ونیسو او د دوئ د خود سري د مخنیوي لپاره داغسي منظم او متحد سو لکه دوئ چي په خپل منځ کي منظم او متحد دي. په تیر نظام کي هم سادات وه چي د ځایي باعزته قبیلوي خلګو کورونه یې بمبارول او چاپې یې وروړلي. په اوسني نظام کي چي هم د یو چا و کور ته د شپې چاپه ورسي او ځراغ پسي واخلو وایي چي د فلاني سید په راپور یا غوښتنه دا چاپه ورغلي وه. والي خبر نه وي، قومندان امنیه خبر نه وي، نفرو یې د آب و د عزت سرې بیولی وي او تر مرګه یې وهلی او بې عزته کړی وي. زموږ د تیر رژیم قومندانان اوس په ګلستان و وزیرستان کي بندیان دي، او موږ په خبر لانه یو. دا نړیوالي مافیاوي عملاً اخته دي، زموږ د نسلونو او ټولنو بیخ او ریښي وهي. دا سي آی اي، بلیک واټر، اکاډمیا، آی ایس آی، کي جي بي، موساد، ډرت و لغت دا ټول تنها نومونه دي. که سي آی اي په افغانستان کي واقعي حضور لرلای نو دا خو د امریکا رسمي استخباراتي اداره وه، ولي د افغانستان د روسي اشغال په پیشبیني کي پاته راغلل؟ دلته په کندهار کي دا عربو د ۱۱/۹ څخه شپږ میاشتي او کال تر مخه ویل چي پر امریکایانو باندي به داسي ستر بریدونه وکړو چي خپل مړي به تر هفتو هفتو نه سي ټولولای. لاکن سي ای اي نه سول په خبره. کله چي ۱۱/۹ پیښ سو بیا یې د څو ساعته په جریان کي د اسامه ویډیو پیدا او خپره کړل چي په هغه کي اسامه د دې پیښي د پلاننګ په اړه خبري کوي او د رویه یې ثابتیږي چي دا کار د ده وو. دصلحي په پروسه کي ملابرادر اخوند اخته وو او د طالبانو ټول پروګرامونه او پلانونه یې پر مخ بیول لاکن د واکمن کیدو وروسته به د طالبانو د حکومت تشکیل او جوړښت څنګه وي او څوک به پکښي وي، دی نه وو په خبر خو اشرف غني پدرنالته پخوا لا په خبر وو. اشرفغني د تګ څخه وړاندي په یوه جتانه (اشرفغني اصلاً جت دی او داسي ویل کیږي چي اجداد یې بیزووانان وه) تقریر کي دا وړاندوینه وکړل چي نه غواړي چي افغانستان دپاکستان حقانیه مدرسه ته ورپریږدي. او دا لمړی ځل نه دی چي په نړیوال فورم کي د افغانستان په اړه رسمي تصامیم یو ډول نیول کیږي او عملاً بل څه پیښیږي. هر شخص چي خپل موجود عقل په کار واچوي، په نړیواله، سیمئیزه او ملي کچه د رسمیاتو تر څنګ غیر رسمي موازي شبکو د موجودیت څخه انکار نه سي کولای. ۳۰۰-۴۰۰ کاله دومره زیات عمر نه دی چي د یوه ولس د ملي حافظي څخه پنهان سي. لاکن نن موږ په رسمي ډول نه یو خبر چي د هیواد ملي بیرغ هغه د تاسیس پر مهال څه ډول وو. د هغه وختو ملي خزاین او شتمنی څه سوې. هغه د احمد شاه بابا د وختو په لکهاوو میله لرغوني وسله څه سول او حساب یې اوس ولي نسته؟ دا حساب باید همدا نن د اوس عصر د چارواکو سره وکړو. که دوئ راته ووایي چي نه یو خبر، اتومات دا پوښتنه راپورته کیږي چي د ملي شتمني د ثبت او راجستر سیستم نلرئ؟ دوئ به وایي چي یا. بیا به ورته ووایو چي اوس یې جوړولای هم نه سئ، دوئ به وایي چي یا. موږ به ورته ووایو چي موږ به په هیواد کي اعلان وکړو چي څوک داسي سته چي د ملی ستمنیو د ثبت راجستر او دوامداره نظارت سیستم د ځانه سره تیار ولري. که یو څوک پیدا سو، هغه به مشر کړو، دا اوسنی پیرى صفته ملا هیبت به رخصت کړو او ګور ته به یې واستوو (پاته دي نه وي چي د جنازې لمونځ، غسل، تکفین او تدفین یې د ټولي نړۍ پر مسلمانانو باندي پور پاته دی). کله چي د لوی احمد شاه بابا د رهبري لاندي یوه پیاوړې اسلامي پښتني امپراتوري تاسیس سول نو د جنوبي افغانستان سدو زیو، محمدزیو، پوپلزیو، بارکزیو، علي زیو، نورزیو، اسحاقزیو او ځیني نورو پښتانه قومونو په سیاست او د اردو په تشکیل کي مرکزي برخه لرل. بیا چي لوی احمدشاه بابا دا امپراتوري پراخه کړل د زابل او غزني غلجي قبایل، د بلوچستان بلوڅ قبایل، د سند او پنجاب قومونه او نور پښتانه قومونه یې په دې تشکیل کي راشریک کړل. لوی احمد شاه بابا د امپراتوري مروج ظالمانه اصول مات کړل چي د ناقلو اقلیتونو اقتدار او وده یې په ټولنه کي تشویقول. ده خپل سیاست د ځامیشتو اکثریتي وګړو د اقتدار او ټولنیزي ودي پر پالیسي راوګرځاوه. ده به په هر ځای کي داسي کسان پر لوړو موقفونو پرېښودل چي خپلو خلګو ته به وفاداره وه او خپل خلک به پر راټول وه لکه د سند حاکم او د بلوچستان میر نصیر خان نوري، حال دا چي نورو همعصرو او پخوانیو امپراتورانو به ځان ته وفاداره داسي چاپلوس او بوټ پاک خلک پر ځای میشتو خلګو مسلطول چي د ځای میشتو خلګو سره به یې هیڅ اړیکي نه لرلي. د امبراتور لپاره د هغوئ پر لوټلو او چور کولو تل اماده وه. لوی احمد شاه بابا ته چي کله د هند پښتنو نوابانو څرګنده کړل چي دوئ نور د پښتونخوا برخه ځانونه نه بولي بلکه دوئ اوس هندوستانیان دي او د هند په استازیتوب د ده سره تعامل کوي. هیڅ یې زړه زهیر نه سو. هند یې د خپلواک


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

او مستقل هیواد په صفت په رسمیت وپیژندی او دا پیشنهاد یې ورته وکړ چې هغه یو غیر پښتون نواب د ځانه سره پښتونخواه ته بوځي چي په راتلونکي کي د هند پښتنو نوابانو ته ګواښ پیښیدای سوای. خو هغوئ ورسره خوښه نه کړل. د هغه وروسته د هند څخه د پښتنو د واک کمبله ټولیدل یوه تصادفي پیښه نه وه. د افغانستان په شمال کي د روسي سلطنت لخوا د اسلامي ایالیتونو خوړل کیدل هم یوه طبعي پیښه نه وه. دا ټوله د نړیوالو یهودي او کلیسایي مافیاوو لاسپوڅو شیعه او صوفي فرقو مخفي فعالیتونه وه چي زموږ ټولني یې داسي د زوال سره مخ کړلې. د جلال الدین بلخي د پیرویانو مولویه فرقه چي شراب، فحشاء او سرود یې د اسلام جزء ګرزولي دي دا ۲۰ کاله یې د بهرني کافرانو په مټ پر موږ حکومت وکړ او موږ یې په بشپړ بې رحمي سره وژلو. چي کله امریکایانو د دوئ د نظامي ملاتړه لاس واخیستی، کرار پر خپلو کورونو راته کښینستل زموږ مشران ولاکه داسي بولي چي زموږ انسانان یې راوژلي دي. چي پسونه در ووژني لا یو حساب ورسره کوې چي مالي تاوان دي رارسولی دی. نن چي په اهل السنت والجماعت مسلمانو کي د تفرقې یوه بله سلسله د اهل حدیثو په نوم پیل سوې ده، چي د فتنه انګیزي ټوله سرچینه یې د احادیثو هغه شپږ کتابه دي چي د اسلامي تاریخ د غیر معروفو لیکوالانو لخوا تصنیف سوي او اوس حتی د احنافو د مدارسو یو لازمي جزء ګرزیدلي دي. دا ټوله د بشر په لاس پلان سوي پدیدې دي چي موږ یې دفع کولای سو. کیدای سي چي د لوی احمد شاه بابا مړینه طبعي نه وي. موږ باید هیر نه کړو چي د لوی احمد شاه بابا، وزیر اکبر خان او علامه سید جمال الدین افغان مړینه د موجوده معمولي رنځ یا زخم په ناسور اوښتلو سره پیښ سوي دي او په دې پیر کي داسي زهرو موجودیت جوتیږي چي پر موجود زخم باندي کارولو وروسته به یې هغه په ناسور واړوی. نن چي د هغو قومونو او قبایلو حالت ته ګورو چي د لوی احمد شاه بابا او د سدوزو په واکمني کي د سیاست مرکز او محور وه، واقعاً ژړا پر راځي. جاهله، بې سیواده او غیرالله ته د معنوي فیض په طمع ناست...... او دا چي تاجک، اوزبک او هزاره اقلیتونه چي د بهر څخه هیواد ته راکډه سوي وه او د زمیانو په توګه یې ژوند لاره، په تدریج سره دومره پیاوړي سول چي ځانګړي ملیشې یې پیدا کړې، د ملي استخباراتو هستې یې اشغال کړې، د هیواد تر ٪۹۰ ډیر اداري واک یې پوخ په قباله خپل کړی وو او هغه پاته ٪۱۰ ونډه یې هم هغه پښتنو ته ورکړې وه چي د خپل پښتون ولس او د هغه د فرهنګ سره به یې نفرت لاره. ایا دا هر څه تصادفي پیښ سول چي د دې هیواد واکمنان ګدا او ګدایان واکمنان سول؟ ایا اوس هم باید دا د ذلت آمیزه زوال د الهي مشیت په بللو نوش جان کړو. حال دا چي موږ هغه ملت یو چي کله چنګیز د الهي عذاب په بللو سره د عرب او خراسان ولسونو خپل تقدیر په توګه ومانه، موږ ورسره وجنګیدلو او د چنګیزیانو لپاره الهي عذاب وګرزیدلو. په درسته نړۍ کي هیڅ ولس دومره په میړانه او بریالیتوب سره چنګیزیان مات نه کړل لکه موږ چي مات کړل. او نن و دې سیکسورکرانو ته تسلیم سو؟ اوس د داعش په نوم د یوه بل ستر فساد ږغونه پورته کیږي او د پنجشیر لغړیان یې د فرانسې څخه ننګه کوي. د صفر په قطعاتو کي شامل سوي زموږ لغړیان او لندغر هم سره راغونډیږي او د افغانستانه څخه هم هغه زاړه مور آزاره، پلار ازاره او همسایه ازاره اوباشان پاکستان ته اوړي او د داعش صفوف تقویه کوي. لاکن دا د خره ایال په دې نه پوهیږي چي د داعش عودت د څه په معنا دی؟ دلته داعش د پخواني شمالي ټلوالي په ځیر د یو ساختار را منځته کول دي چي جګړه په پښتنو وکړي او د اقلیتي ټوپکسالارانو د واکمني راژوندی کولو لپاره د یوې وسیلې کار ورکړي. ایا د هغه پښتنو سرنوشت موږ هیر کړ چي دا ۲۰ کاله وړاندي د ټلوالي د لاسپوڅو په صفت پر طالبانو باندي راغلل. څه سول؟ خاکریزوال دی څه سو؟ ملا نقیب اخوند دي څه سو؟ د نور ولایاتو دا خو نه یو خبر د کندهار او هلمند د ټوپکیانو مشران خو ټوله همدې ټلوالي په توسط دبینه ولاړل. عبدالحکیم جان ټوله عمر د جمیعت ګوند چوپړوالي وکړل خو د بالاخره هم دې سازمان د پغمان د سیسورکرانو سره د ټکر وهلو په جرم د سګواني په میدان کي وواژه. حال داچي دده په خپل ارغنداو کي هغوئ لوچکي ورسره کړې وه. څه ضرور چي سر دي نه خوږیږي، داغ ولي پر ایږدې؟ زموږ پښتنو قبایلو مشرانو ته څه پیښه ده چي د خارجي مافیاوو د پلانونو او دسیسو برخه ګرزي، حال دا چي ښه پوهیږي چي د هغوئ پایلي د اسلام او پښتنو لپاره او خپله د دوئ لپاره مرګوني عواقب راوړي. دلته په کندهار کي د ځینو مشرانو کارکردګي بده نه ده، تل یې د ټولني په دفاع کي قربانۍ ورکړي دي. ځیني نور مشران هم بد نه دي، که په ملي چوکاټ کي د قربانۍ څخه ډډه کوي خو حد اقل خپلي قومي ګټي پیژني. چي یو ورور دي خپل خر د اوبو ایستلای سي او تا ته اړ نه وي، دا هم خیر دی چي تا ته یې ګټه نه درسیږي خو په مصیبت یې سټړی نه یې. پاته سول دا ځیني نور قومونه؛ چي بیخي په پښه ترلي شنه دي. کله چي په سیاسي پروسه راګډ سي لکه د خرو رمه چي په ناور ورګډه سي. د خپل څښاک اوبه خړوي. تر کومه پوري چي د زابل او غزني د غلجو او نورو پښتنو قبیلو موضوع ده، د کندهار، هملند، فراه او ارزګان د قومونو په نسبت یې ټولنیز وضیعت یوڅه ښه دی. تعلیمي، اقتصادي او ټولنیز ساختار یې هم ښه دی خو په سیاسي تعامل کي د نورو پښتنو قومونو څخه هم په بدتره حالت کي ژوند کوي. دهغوئ مشران هم د کابل محوره استخباراتي او مافیایي شبکو تر اطاعت لاندي ژوند تیروي. نور باید راولاړ سو خپل سیاسي جوړښتونه اصلاح کړو. خپلو ملکانو، قومي مشرانو، مذهبي مشرانو سره کښینو چي راسئ خپل عمل او وینا د اسلامي شریعت تابع کړئ. دا په مساجدو کي چي سجدې کوو او د جمعې د ورځي اجتماعي جوړوو. دا ډرۍ نه دي. اسلام یو برحق دین دی. خدای پاک ج په واقعت کي سته او د مرګ وروسته به مو ژوندي کوي او حساب به راسره کوي. ملا حسنه، ملا یعقوبه، سراج الدینه او انس حقاني، سهیل شاهینه او زبیح الله مجاهده، ملا امیر خان متقي و عبدالسلام حنفي و عباس ستانکزیه؛ د دې جفاوو حساب به ورکوئ چي د خدای پاک ج په مقابل کي مو دا غیر رسمي قوتونه په خدایي نیولي وه


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

او مومنان مو په کليمه تير ايستل. دا صحيح دی چي اوس دا يو نړيواله پديده ده چي ځای ميشتي خلگ د علم، حکومت او اقتصاد څخه ليري کيږي او پردي ناقلين پر دوئ باندي مسلطيږي. امريکايان، کاناډايان، جرمنيان، فرانسويان و نورو ونور سر نه ورسره خلاصوي، موږ ولي سر ورسره خلاص کړو، لاکن دلته استثناآت هم سته. ډير ملتونه دي چي د بهرنيانو قبلولو پاليسي پر ضد راپورته سوي دي. د نړۍ ځای ميشتي ولسونه اوس د رابيداره کيدلو په حال کي دي. کيدای سي چي ډير ژر د ټولي نړۍ بانفوذه سياسي رهبران په پاکستان او افغانستان کي د ځانمرګو د روزني مخفي منظم پروګرام منفي عواقب درک کړي او په دې دوو هيوادونو کي د مسئوليت پزيره حکومتونو د ټينګښت چاري په خپله ګټه وبولي. خو موږ بايد يوازي د الله تعالی ج په وړاندي خپل مسئوليت احساس کړو او د نړيوال بشريت ضد پديدو لکه مخدره توکي، ځانمرګو روزنه، مرموزه مخفي مليشې جوړونه و داسي نورو په ورکولو کي خپل امکانات په کار واچوو. هغه خلگ که د طالب په چوکاټ کي وي او که د تير رژيم په چوکاټ کي چي په ماضي کي يې د القاعده او ځانمرګو په پروسه کي لاس لرلی وي، بايد پر کورونو يې کښينوو. پر دوئ باندي موږ شرعي لاره لرو. د دوئ مخفي معاملاتو موږ د نړۍ د منظمو ځواکونو پر ضد وتړلو او دوئ خپله راڅخه وتښتيدل. بيا يې زموږ ځوانان خطا ايستل او د ځانوژني په عملياتو کي يې کارول حال دا چي د بهرني اشغال د خاتمې لپاره تنها سر خلاصيدلو ته اړتيا وه او بل د افغانستان طالب مجاهدينو د پرمختللي چريکي تکتيکونو دلاري ثابته کړل چي د دوئ مقاومت تنها و ځانمرګو ته محتاج نه دی. بهرني نيواکګر او د دوئ د کرايي مليشې د هيواد اطرافي ولسونو يومخيز مقاومت مات کړل، نه د آی ايس آی او حقاني شبکې ځانمرګو. په حقيقت کي هم دا ځانمرګي وه چي بهرنيانو ته يې په افغانستان کي د جنګيدلو لپاره اخلاقي جواز ورکاوه. استراليايان اوس هم کله کله د هغه پنځه کلن يا شپږ کلني ماشومي انجلۍ د ځانمرګي ويډيو په ټولنيزو رسنيو کي پورته کوي چي په ارزګان کي پر يوه استراليايي ژورناليسټ باندي وسول. دا د ټوله ارزګان د ولسونو لپاره شرم او فضيحت دی چي په خپلو ماشومانو باندي يې بمونه تړل، د دې لپاره چي ملا يعقوب وزير دفاع سي او د حقاني شبکې سره يوځای د پنجشير صلاحوي پر پاکستان وپلوري.

تر کومه پوري چي د افغانستان موضوع ده، نور به هر څه خدای خير کړي، يوه خبره چي ثابته سوې ده هغه دا ده چي دلته دوه حکومته پرله پسې سره راغله چي يو د افغانستان اسلامي جمهوريت وو او بل د افغانستان اسلامي امارت. يو د مکتبونو او پوهنتونونو څخه خپل پيرويان استخدامول او بل د مدارسو او دارالعلومونو څخه. د دواړو رهبرياني د نامعلومي مرجع لخوا ټاکل کيږي او د نامعلومو موخو لپاره په ظاهره جګړه او په پټه همکاري سره لري. د دواړو خواوو مشترکه ګټه د افغانستان ملي عوايد دي. د دواړه خواوو بې انصافه مشران په خپل منځ کي اړيکي سره لري او انصافداره مشران په خپلو صوفوفو کي سرګردانه دي. د دوئ سره بيا د نورو هيوادو بې انصافه چارواکي په همدې عوايدو کي د ونډو لرلو په حساب ورسره همکاره دي. اوس که په امريکا کي د امريکايي ولس په رايو باندي کامياب سوی ولس مشر موجود وای نو په افغانستان کي به يې هم داسي ولس مشر خوښ کړی وای چي د افغان ولس په واقعي رايو کاميابه سوی وي. دا چي په امريکا کي د پوستې د بکسونو څخه راوتلو رايو ولس مشري ته رسولی وي خود به د افغانستان د ۳۹ مليونه ولس څخه د ۱/۵ مليونه رايو ولاړ نامشروع نظام په ملاتړ د افغانانو کورونه او دوکانونه بمباروي. تر څو چي افغانان په خپل منځ کي د سياسي حقوقو د حساب کاته وانه چوي دا قصې به داغسي رواني وي. زموږ په کليو او ښارونو کي د پرديو اجيران يو پر بل خطايي ټکان کوي تر منځ موږ عوام پکښي وژل کيږو، د وطن اصل ښتنتان ګوتي په غوږو کي لکه ښځي په کورونو ننوتلي ناست وي. آخر به اعلان وکړي چي موږ په خپل منځ کي سره وجنګيدلو، يو پر بل نه سوای غالبيدلای نو دا ملک سره د اموالو او خلګو نيم زموږ او نيم د دوئ دی. جاهل او ناپوه د دې مسائلو په عمق پوهيدای نه سي او د سيواد او علم زده کړي ته د ماشومتوبه څخه تر سپينږرتوبه پوري دوئ وخت نلري. د يوه او دوو نفرو پوهي د ۹۸ و د ۹۹ تفرو جهالت جبرانولای نه سي. نو که غواړو چي دا هيواد وساتو او پرمختګ ورکړو او تازه پر واک راغلي لوچګانو، د واکه پرزيدلو لوچګانو او واک ته په هيله لوچګانو څخه د يوه مخه ځانونه خلاص کړو بايد پر سياسي اصلاحاتو ټينګار وکړو. زموږ سياسي تصاميم بايد داسي سياسي ګوندونه ونيسي چي معلومه اساسنامه، معلومه مرامنامه او معلوم سياسي پروګرام ولري او زموږ په بانکونو کي مليونونو افغانی د خپلو اعضاوو په حق العضويتونو راټولي سوي مالي سرچينې ولري. نور بايد مداريان او لغړيان زموږ د سياسي تصميم نيوني د پروسې يوه مطلق برخه پاته نه سي. د پارلمان، مشرانو جرګه، ولايتي شورا، ولسوالي شورا او کليوالي و ناحيوي شوراوي چي نه وي دا څه معنا؟ معنا دا چي چارواکی نعوذو بالله بلاتشبيح خدای!. دا ۱۴۰۰ کاله راهيسي مولود شريف په دوشنبه وو. د نوي نظام جواسيسو سه شنبه ته واړاوه. دا څه معنا؟ معنا دا چي سبا به لکه د بعثت څخه وړاندي کفار چي حرامي مياشتي به يې د حلالو مياشتو سره اړولې، دوئ به هم اخترونه او روژې سره اړوي، د حلال او حرام موقفونه به سره اړوي. د مخنيوي څوک به يې نه وي. چي ولسواکي نه وي خو ښکاره خبره ده چي زورواکي به وي او د نړۍ زور د اسلام دښمنه کفارو په لاس کي دی. که د افغانستان خلگ نن د ولسواکي د حقوقو تيريږي نو معنا دا چي تر خپل اسلام به هم تيريږي، تر خپلي پښتو به هم تيريږي او او د خپل غيرت او ناموس به هم تيريږي. اوس لا سر وخت دی د ملت اکثر غداران د غني سره يو ځای په چايو سول، د طالبانو په صفوفو کي خاينان اوس لا دومره زيات سوي نه دي. يو څو محدود خاينان پکښي سته او هغه هم ټول معلوم دي. غويي پوست سوی دی، يوازي لکۍ يې پاته ده. چي ټول ملت يو همت لا بل وکړي د طالبانو د اسلامي تحريک د خپلي ټولني د ځوانانو د يوه سياسي حرکت په څير قبول کړي او په کابل کي پاته د تير رژيم د نسبتاً مخلص او نيک


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رالیږلو مخکې په ځير و لولـئ

نامه افرادو سره یو ځای د موقت حکومت د رامنځته کولو په غوښتنه او د استخباراتو د لاسپوڅو د واکه لیري کولو او سیاسي اصلاحاتو په غوښتنه متفق سي، د راتلونکو زرو کلونو پوري به يې د خپلو راتلونکو نسلونو آینده تضمین کړې وي. موږ باید په سیستم او میکانیزم کي د اصلاحاتو غوښتونکي سو، د اصولو، ضوابطو او قواعدو په وضاحت او عادلانه نفاذ ټینګار وکړو. پر شفافیت او سیاسي واک پر مناسب ویش ټینګار وکړو، نه پر دې چي قومندان امنیه یا وزیر یا ولسوال یا والي دي حتماً زما د قوم وي. د بیلګي په توګه په سیستم کي یوه اصلاح چي تنها دولتي مامورین مکلف سي چي مراجعینو ته خپل خدمات د یوه وخت په محدوده کي ارئیه کړي، او دولتي ادارې ولسي استازو ته جوابوینوکي وګرزول سي، ټول اداري فساد به بشپړ ورک سي او په دولتي ادارو کي د فساد امکانات ورکول خپله د دې سبب کیږي چي غله نور د ماموریتونو شوق پریږدي او مخلصو هیوادوالو ته لاره خلاصه سي چي د سالم رقابت د لاري و یوې ادارې ته راسي او د معاش په مقابل کي د ولس چوپړ وکړي. همدا لاره د پیغمبر ص او د هغه د خلفاء راشدینو رض ده چي په تعقیب یې موږ د دنیا او د عقباء ښیګڼي خپلولای سو................. ومن الله توفبق!

x-----x-----x-----x


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ